# مسلمان هغه څوک دی چې نور مسلمانان يې د ژبې او لاس له ضرر څخه په امان کې وي او مهاجر هغه څوک دی چې هغه څه پرېږدي چې الله پاک ورڅخه منعه کړی وي

له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: «مسلمان هغه څوک دی چې نور مسلمانان يې د ژبې او لاس له ضرر څخه په امان کې وي او مهاجر هغه څوک دی چې هغه څه پرېږدي چې الله پاک ورڅخه منعه کړی وي».
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي چې د کامل اسلام خاوند هغه څوک دی چې د هغه له ژبې څخه مسلمانان په امن کې وي، نه ورته کنځلې کوي، نه پرې لعنت وايي، نه يې غيبت کوي او نه يې تر منځه يو بل ته د هيڅ ډول ضرر رسولو هڅه کوي. او د لاس څخه يې په امن کې وي، نو تېری پرې نه کوي، له حق پرته يې مالونه نه اخلي او داسې نور. او مهاجر هغه دی چې هر هغه څه پرېږدي چې الله تعالی ترې منع کړې دی.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10101

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee